امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات




# هفته نامه مدیریت حوادث

۲۴ الی ۲۹ عقرب ۱۴۰۴

شماره یکصدو سی و یکم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نوې اداري ودانۍ په ځانګړو مراسمو کې پرانیسته



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، میدان وردګ ولایت ته سفر وکړ او په ځانګړو مراسمو او د ولایت مقام مرستیال، محترم مولوي فریدالله قیام، د ولایت مقام د دفتر رئیس، محترم مفتي ضابط حارث، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي فیض الله جلالي، د قومندانۍ مرستیال، محترم مولوي نورالله ناصح، د ولایت د بیلابیلو ادارو رئیسانو، مشرانو او خبریالانو په شتون کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست اداري ودانۍ چې تازه جوړه شوې ده، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۸ نېټه پرانیسته او رسماً یې ګټې اخیستنې ته وسپارله...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د افغانستان د سره صلیب نړیوال فدراسیون له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د افغانستان د سره صلیب نړیوال فدراسیون (IFRC) له نوي رئیس، ډاکټر حسام فیصل او د فدراسیون له سلاکار احمد سلیمان...

ادامه در صفحه ۳

## د پېښو چارو د همغږۍ معین د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان...

ادامه در صفحه۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د عدالت غوښتنې او پیاوړتیا مدني مؤسسې ترمنځ د (۵۷۱,۷۱۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د عدالت غوښتنې او پیاوړتیا مدني مؤسسې له لوی رئیس، محترم عبدالحلیم حلیم سره د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۵ نېټه په...

ادامه در صفحه ۵

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نوې اداري ودانۍ په ځانګړو مراسمو کې پرانیسته



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، میدان وردګ ولایت ته سفر وکړ او په ځانګړو مراسمو او د ولایت مقام مرستیال، محترم مولوي فریدالله قیام، د ولایت مقام د دفتر رئیس، محترم مفتي ضابط حارث، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي فیض الله جلالي، د قومندانۍ مرستیال، محترم مولوي نورالله ناصح، د ولایت د بیلابیلو ادارو رئیسانو، مشرانو او خبریالانو په شتون کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست اداري ودانۍ چې تازه جوړه شوې ده، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۸ نېټه پرانیسته او رسمًا یې ګټې اخیستنې ته وسپارله.

په ننۍ غونډه کې، محترم ترابی صاحب ټینګار وکړ چې د مناسب کاري چاپېریال درلودل کولای شي په هره اداره کې د خدمتونو پر کیفیت او چټکتیا مستقیم او څرګند اغېز ولري. له همدې امله، موږ هڅه کړې چې دا ودانۍ په دریېو پوړونو کې جوړه کړو؛ چې د ګدام لپاره د ځکمې لاندې یو پوړ او دوه اداري پوړونه د ریاست د چارو د پرمخ وړلو لپاره په کې شامل دي. دغه پروژه د ۱۳ میلیون افغانیو په لګښت بشپړه شوې ده او په څلورو نورو ولایتونو سمنګان، کندهار، خوست او کاپیسا کې دا پروژې په همدې ډیزاین سره یا بشپړې شوې دي او یا هم بشپړېدو ته نږدې دي.

هغه د میدان وردګ ولایت خلکو ته د دې ودانۍ د مبارکي ویلو ترڅنګ څرګنده کړه چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې تل هڅه کړې چې د پېښې په صورت کې زیانمنو خلکو ته بېړني خدمتونه وړاندې کړي، او دغه ودانۍ کولای شي چې د غوره خدمتونو وړاندې کولو، د بېلابېلو برخو ترمنځ د همغږۍ د زیاتوالي او د ورځنیو فعالیتونو د اسانتیا لپاره زمینه برابره کړي.

همدارنګه، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي فیض الله جلالي د ادارې د لوی رئیس له لوري د دې ودانۍ د جوړولو د هڅو لپاره ځانګړې مننه وکړه او پروژه یې حاضرینو ته تشریح کړه.

ورته مهال، د ولایت مقام د دفتر رئیس، محترم مفتی ضابط حارث او نورو ګډونوالو هم په خپل وار سره ویناوې وکړې او څرګنده یې کړه چې د دې ودانۍ جوړول د مناسب کاري چاپېریال د رامنځته کولو او پر وخت د خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې یو اغېزناک ګام دی. همدارنګه ټینګار وشو چې د داسې معیاري تأسیساتو جوړول کولای شي په ادارو کې د ظرفیت د لوړولو، د مدیریت د ښه‌والي او د خلکو لپاره د چټکو او باکیفیته خدمتونو د برابرولو په برخه کې مهم رول ولوبوي. ګډونوالو له ترسره شویو هڅو په مننې سره هیله څرګنده کړه چې د نورو برخو د اداري تأسیساتو د جوړولو بهیر هم دوام ومومي او د ښه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره نورې بنسټیزې ودانۍ هم جوړې شي.

په پای کې، د ولایت مقام له لوري پر وخت د خدماتو وړاندې کولو په پار له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس او همکارانو ته یې ډالۍ ورکړل شوې، او د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس هم ګډونوالو ته د هغوی لپاره په پام کې نیول شوې ډالۍ ورکړې.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان د سره صلیب نړیوال فدراسیون له رئیس سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د افغانستان د سره صلیب نړیوال فدراسیون (IFRC) له نوي رئیس، ډاکټر حسام فیصل او د فدراسیون له سلاکار احمد سلیمان سره د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۹ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او پر ګډو همکاریو او د علاقې وړ پر موضوعاتو یې خبرې وکړې.

په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب وویل، چې د دواړو ادارو ترمنځ ډېر کاري مشترکات شتون لري، او موږ له ټولو دولتي ادارو او مرستندویو سازمانونو سره ښه همکاري لرو، او همدا تګلاره له فدراسیون سره هم پر مخ وړو. نوموړي د هغو اسانتیاوو یادونه وکړه چې یادې ادارې د هوکړه لیکونو په چوکاټ کې د مرستندویه سازمانونو لپاره برابرې کړې دي او زیاته یې کړه چې د دې فدراسیون له پخواني رئیس سره پر ګډو همکاریو خبرې شوې وې، خو د ځینو لاملونو له امله نیمګړې پاتې شوې.

د ادارې لوی رئیس، وویل چې موږ ډاډ ورکوو، هره مرسته چې له مرستندویو بنسټونو څخه موږ ته وسپارل شي، په چټکۍ او شفافیت سره به مستحقینو ته ورسېږي.

په همدې مهال، د یاد فدراسیون نوي رئیس ډاکټر حسام فیصل د پېښو مدیریت په برخه کې د خپلو تجربو په یادونې سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره یوه مهمه او اغېزمنه اداره وبلله. نوموړي زیاته کړه چې موږ له دې ادارې سره نږدې همکارۍ ته لیوالتیا لرو؛ له همدې امله باید پر داسې طرحې دې کار وشي چې همکارۍ د یوې توافق نامې په چوکاټ کې تنظیم شي، او زموږ د همکاریو کچه له پېښې مخکې او وروسته مخکې له مخکې معلومه شي.

له بل پلوه، د فدراسیون سلاکار احمد سلیمان د دواړو ادارو ترمنځ د پخوانیو اړیکو ستاینه وکړه او ویې ویل چې تېره ورځ د بهرنیو چارو وزارت په یوې مهمه ناسته کې مو د دې ادارې اغېزمن فعالیتونه او له مرستندویو بنسټونو سره یې همکارۍ په ښه توګه روښانه کړې او اغېزمنې مو وبللې.

په پای کې، دواړو لوریو ټینګار وکړ چې باید د تخنیکي کمېټې له لارې د دواړو ادارو ترمنځ د یوه موافقت‌لیک د طرحې پر جوړولو کار وشي، څو د پېښو له رامنځته کېدو څخه مخکې او وروسته د همکاریو کچه له وړاندې روښانه شي.

# د پېښو چارو د همغږۍ معين د بادغيس ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست څخه ليدنه او څارنه وکړه او د دې ولايت له والي سره يې وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معين، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د يو تخنيکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولايتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، باميان، غور، دايکندي، ميدان وردګ، لوګر، پکتيا، پکتيکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، ارزګان، هلمند، نيمروز، فراه او هرات ولايتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياستونو د کاري بهير له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۷ نېټه بادغيس ولايت ته ورسېد.

په پيل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معين، د بادغيس ولايت له والي، محترم الحاج ملا محمد حنيف حمزه، سره د دې ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس، محترم الحاج مولوی باريداد صابر په شتون کې وکتل.

دا ناسته د قرآن عظيم الشان د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه.

د پېښو چارو د همغږۍ محترم معين د نورو ولايتونو د سفرونو يادونه وکړه او د سفر موخه يې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياستونو د عمومي وضعيت څېړل، د اسلامي امارت د عالي مقام مشرتابه د فرمانونو او لارښوونو د پلي کېدو څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړه ليکونو د پلي کېدو څارنه، د وقايوي پروژو، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماين پاکۍ او د نشراتي چارو څېړنه او د ستونزو او وړانديزونو اورېدل ياده کړه.

هغه ټينګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانوني صلاحيتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقايوي پروژو د پلي کېدو، د زيانمنو بېړنيو اړتياوو د پوره کولو او د طبيعي پېښو او خطرونو د مديريت د ښه والي په برخه کې هر اړخيزه همکاري وکړي.

وروسته محترم والي صاحب، د ښه راغلاست ويلو او زيانمنو ته د رسېدنې په برخه کې د يادې ادارې له هڅو څخه د قدرداني ترڅنګ د دې ولايت زيانمنتيا ته په اشارې سره وويل چې د بادغيس خلک د طبيعي پېښو له امله په لوړه کچه زيانمن دي او بشردوستانه مرستو او وقايوي پروژو ته اړتيا لري.

په پای کې، محترم صابر صاحب صاحب له دې بهير څخه د خوښي په څرګندولو سره زياته کړه، چې د دويمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ يو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه يې وکړه.

وروسې، ياد پلاوي د بادغيس ولايت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ رياست څخه ليدنه وکړه او د ياد رياست کاري بهير يې له نږدې وڅاره. په دې ليدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معين له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړانديزونه يې واورېدل او د اسنادونو او فعاليتونو تر ارزونې وروسته يې هغوی ګړندي، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.

د يادونې وړ ده، چې ياد پلاوي په دې رياست کې خپل څارنيز او لارښوونکی بهير پيل کړ.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د عدالت غوښتنې او پیاوړتیا مدني مؤسسې ترمنځ د (۵۷۱,۷۱۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د عدالت غوښتنې او پیاوړتیا مدني مؤسسې له لوی رئیس، محترم عبدالحلیم حلیم سره د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۵ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب په دې ناسته کې وویل چې اقلیمي بدلونونو ته په کتو په هېواد کې د بارانونو ورښت د ناڅاپي سېلابونو رامنځته کېدو لامل کېدای شي، له همدې امله، موږ د سېلابي لارو د پاکولو کار په بېلابېلو ولایتونو کې پیل کړی او له تاسو غوښتنه کوو چې له ډونرانو سره په خبرو کې د مرستو ډول له بشري مرستو څخه بنسټیزو پروژو ته واړوئ، ځکه د وقایوي پروژو پلي کول د ډونرانو، مؤسسو او خلکو لپاره د خوراکي او غیرخوراکي مرستو وړاندې کولو په پرتله ډېر اغېزمن دي.

په همدې حال کې، د یادې موسسې لوی رئیس، محترم عبدالحلیم حلیم، د دې ادارې له لوري په چټکۍ سره د موسسو د فعالیتونو ترسره کولو په پار ځانګړې مننه وکړه او ویې ویل چې د همدې دلیل له مخې موږ لېوالتیا لرو چې په راتلونکې کې دوه نورې پروژې هم له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره په ګډه ترسره کړو.

د یادونې وړ ده، چې د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د پنځه سوه، یو اویا زره، اووه سوه او اوولس (۵۷۱,۷۱۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې یاده مؤسسه، چې ډونر یې یونیسف دی، د کونړ ولایت د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنو خلکو ته لاندې خدمتونه وړاندې کړي:

۱. له ټولو خدماتو سره د څښاک اوبو ۶۰ ذخیرې برابرول، هره ذخیره ۵ متر مکعب ظرفیت لري، او دغو ذخیرو ته د ۹۰۰ ټانکرونو له لارې د اوبو لېږدول.

۲. د اوبو رسونې ۶ شبکو بیا رغونه، چې ۸۰۰۰ کسان به ګټه ترې اخلي.

۳. د څښاک اوبو فزیکي او بیولوژیکي ټسټ کول.

۴. د ۱۸۰ تشنابونو او حمامونو جوړول، چې له دې جملې څخه ۱۵۰ یې فلزي او ۳۰ نور به له ترپال څخه جوړ وي، په شنې پردې د ښځینه تشنابونو او حمامونو پوښل او د تشانوبونو او حمامونو ساتنه او مراقبت کول.

۵. د معیوبینو کسانو لپاره د تشناب ۴۰ چوکیو برابرول او لېږدول.

۶. د لنډمهاله هستوګنې په پنډغالو کې د ۵ سېټ کونیکس تشنابونو او حمامونو لګول، د پنډغالي په اړونده سیمو کې د کثافاتو او فاضلابو مدیریت او پاکول.

۷. د ۲۰۰ تشنابونو لپاره د بریښنا سیستم برابرول.

۸. د تشنابونو او حمامونو لپاره د ګرمو اوبو سیستم برابرول.

۹. د ۱۱۵ بېړنیو دست‌شویونو نصبول.

۱۰. د یونیسف د ۵۰۰۰ حفظه الصحي کېټونو وېشل.

## د میدان وردګ ولایت په جلریز ولسوالۍ کې ۲ عدده ماینونه کشف او خنثی کړل شول




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ایریا QRT-04 ماین پاکۍ مؤسسې په همغږۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۴ نېټه د دې ولایت د جلریز ولسوالۍ په شیرخان سیمه کې د سړک لاندې دوه عدده بوشکه ډوله ماینونه کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل.
د یادونې وړ ده، چې د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست له خلکو غوښتي، چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لیدو په صورت کې دې، ژر تر ژره له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي، تر څو د خنثی کولو لپاره یې اړین اقدامات ترسره شي.

## کشف و خنثی‌سازی مواد منفجر ناشده در قریه دشت آبچکان مرکز ولایت لوگر




بر اساس هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با مؤسسهٔ بین‌المللی ماین‌پاکی هیلوترست، تیم فني این مؤسسه، بتاریخ ۲۴ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق در قریهٔ دشت آبچکان مرکز پل علم، ۵ مواد منفجر ناشده باقی‌مانده از جنگ‌های گذشته را کشف و به‌طور مصوون خنثی و از بین برد.
شایان ذکر است که این مواد منفجر ناشده قابل استفاده نبودند و از جنگ‌های گذشته باقی مانده و برای مردم محل خطر ایجاد کرده بودند، که به‌طور ایمن از بین برده شدند. این مواد شامل ۳۵۰ گرام مواد منفجره، ۳ عدد پتاقی و ۴ متر سیم سوزنی بودند.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستۍ زلزلې له امله ۶۶ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ملاتړ موسسې(Save the Children) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه‌لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي همکارۍ، د دې ولایت د دره نور ولسوالۍ په کندک کلي کې د وروستۍ زلزلې له امله ۶۶ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۴ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.
د مرستو په دې وېش کې د مسولینو په شتون کې هرې مستحقې کورنۍ ته ۹،۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال شپږ سوه شپږ څلوېښت زره او اته سوه (۶۴۶،۸۰۰) افغانۍ د یادو کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.
مرسته اخیستونکو کورنیو د مرستو د وېش په پار له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د Save the Children موسسې څخه مننه او قدرداني وکړه

## د بادغيس ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۱,۰۵۹ وچکالۍ ځپلو کورنيو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ژغورنې نړيوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسليک شوي هوکړه ليک له مخې، د بادغيس ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د يادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولايت په سنګ آتش ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۱,۰۵۹ زيانمنو او اړمنو کورنيو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۴ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ د سيمه ييزو مسؤلينو په شتون کې، ۱۶,۴۵۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال اوولس مېليونه او څلور سوه او شل زره او پنځه سوه پنځوس (۱۷,۴۲۰,۵۵۰) افغانۍ نغدې پيسې د ياد شمېر کورنيو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۲۰۲ خانوادۀ متضرر از زلزله کمک غذایی و غیرغذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با همکاری مؤسسات نهاد های SFL-WFP، UNICEF و حمایه اطفال، برای ۲۰۲ خانواده‌ای که در نواحی مختلف شهر مزارشریف و ولسوالی‌های نهرشاهی و دهدادی آسیب‌دیده و منازل‌شان تخریب شده بود، بتاریخ ۲۴ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.

در این روند، هر خانواده متناسب به نیاز خود کمک دریافت کردند، طوری که از سوی SFL-WFP، هر خانواده ۱۰۰ کیلوگرم آرد، ۱ کیلوگرم نمک، ۲ کیلوگرم بیسکویت، ۱۰ لیتر روغن و ۱۲.۵ کیلوگرم دال نخود و برای خانواده‌های دارای طفل شیرخوار یا زنان شیرده و حامله، ۱.۵ کیلو پلمپی و ۳ کیلوگرم سوپر سیریل، از سوی مؤسسه حمایه اطفال، هر خانواده یک بسته لباس زمستانی، پنج تخته کمپل و یک بسته بهداشتی و از سوی UNICEF، هر خانواده یک بسته فامیلی شامل ۲۵ قلم مواد ضروری دریافت نمودند.

باشندگان محل از توزیع این کمک‌ها استقبال کرده و از همکاری ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و نهادهای یادشده قدردانی نمودند.

## په سمنګان ولایت کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱,۴۰۲ زیانمنو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشل شوې




د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د، WHH، UNICEF، WFP، IOM او د ASIO سازمانونو ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۴ نېټه د یاد ولایت په حضرت سلطان، خُلم، فیروز نخچیر ولسوالیو او په مرکز کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱,۴۰۲ زیانمنو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې دASIO موسسې ۲۰۷ کورنیو هرې یوې ته، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه او ۱.۵ کیلو پلمپي ووېشل او د UNICEF سازمان له لوري همدغو ۲۰۷ کورنیو هرې یوې ته یو عدد د حمام کېټ او د ژمنۍ البسې ۱ کارټن، همدارنګه، ۱۸۹ نورو کورنیو هرې یوې د یاد سازمان له لوري د ژمنۍ البسې ۱ کېټ او ۱ روغتیایي کېټ ترلاسه کړل.

د WHH موسسې له ۲۴۱ کورنیو څخه ۹ کورنیو هرې یوې ته ۱۳,۴۱۵ افغانۍ او ۲۳۲ کورنیو هرې یوې ته ۱۱,۱۸۰ افغانۍ نغدې پیسې ووېشلې، ورته مهال یادې موسسې له ۳۰۵ کورنیو څخه ۲۵۴ کورنیو هرې یوې ته ۱۱,۱۸۰ افغانۍ او ۵۱ کورنیو هرې یوې ته ۱۳,۴۵۰ افغانۍ نغدې پیسې هم ووېشلې.

همدا راز، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) ۴۶۰ کورنیو هرې یوې ته ۸,۵۰۰ افغانۍ نغدې پیسې او له یاد شمېر کورنیو څخه ۱۳۷ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په انګړ کې د وچکالۍ د خطرونو د کمولو په موخه تخنیکي غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په انګړ کې، د دې ادارې د تخنیکي کمیټې مسؤل، محترم برهان الدین شینواري، د دې ادارې د مشاور محترم حسیب الله حسیب؛ د وچکالۍ او سېلابونو د کارپوه محترم مطیع الله احمدزي او د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې د پلان ګذارۍ او ارزونې د مسؤل؛ محترم خواجه مؤمن، د یادې مؤسسې د حقوقي مسؤل محترم عصمت الله عصمتي؛ د کلیو د پراختیا وزارت د براورد د انجنیر؛ محترم عبدالباسط؛ د کرنې وزارت د هوا پېژندنې کارپوه محترم احمد سیر؛ د هوا پېژندنې عمومي ریاست د هوا پېژندنې کارپوه محترم مرادي او د محیط زیسط ادارې د طبیعي پېښو کارپوه محترم احمد فاتح یوسفزي ترمنځ د وچالۍ د خطرونو د کمولو په موخه د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۴ نېټه تخنیکي غونډه ترسره شوه.

په پیل کې محترم برهان الدین شینواري راغلیو میلمنو ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې د ټولو امارتي ادارو او اړوندو داخلي او بهرنیو بنسټونو مسؤلین باید د طبیعي پېښو په ځانګړې ډول د وچکالیو په اړه بشپړه همغږي ولري او په دې برخه کې یې د ناستې با ارزښته یادې کړې.

همدارنګه، نوموړي په ښارونو او کلیو کې د وچکالیو د بدو اغېزو په اړه د عامه پوهاوي رول مهم وباله او په دې برخه کې یې د یو منظم او همغږي پلان د جوړولو غوښتنه وکړه.

ورپسې، راغلو میلمنو په خپل وار سره د وچکالیو د شته او رامنځ ته کېدونکو خطرونو او حل لارو په اړه خپل معلومات وړاندې کړل او په دې برخه کې یې بشپړه همغږي، اړین تدابیر او مشترکه استراتیژي او پالیسي اغېزمنه وبلله.

په پای کې، د غونډې ټولو ګډونوالو د وچکالیو د خطرنو د کمولو او د هغه لپاره د مناسبو حل لارو د پیداکولو لپاره د یو مناسب پلان او تګلارې په جوړولو سره توافق وکړ.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردگ برای ۱۲۰ خانواده مستحق البسه زمستانی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردگ با حمایت سازمان یونیسف، برای ۱۲۰ خانوادهٔ یتیم و بی‌سرپرست که پس از سروی شناسایی شده بودند، بتاریخ ۲۵ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق به‌دلیل سردی هوا مربوط مرکز ولایت، میدان‌شهر و ولسوالی‌های جلریز، نرخ، چک، سیدآباد، جغتو و دایمیرداد البسهٔ زمستانی توزیع کرد.

در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولان، یک بستهٔ البسهٔ زمستانی یونیسف که شامل ۳۰ قلم جنس مختلف زمستانی بود، توزیع شد.

قابل یادآوری است که رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردگ به خانواده‌های آسیب‌دیده اطمینان داد که این اداره در تلاش است تا از یتیمان و خانواده‌های بی‌سرپرست حمایت بیشتر صورت گیرد.

## په لغمان ولایت کې د راکټ یوه مرمۍ کشف او خنثی شوه




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ پر بنسټ، د هلوټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې تخنیکي ټیم د یاد ولایت د مرکز مهترلام په پنج پای کلي کې د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۵ نېټه د راکټ یوه مرمۍ کشف او په خوندي ډول خنثی کړه.

دا مرمۍ د OG-7 راکټ اړوند وه چې له تېرو جګړو پاتې شوې وه.

د یادونې وړ ده، چې دا مرمۍ د کارولو وړ نه وه خو د خلکو ځان او مال یې له ګواښ سره مخ کړي وو چې په ویجاړولو سره یې د خلکو خوندیتوب کچه لوړه شوه.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د زلزلې له امله ۲۶۰ زیانمنو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۵ نېټه په حضرت سلطان ولسوالۍ کې د زلزلې له امله زیانمنو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

د مرستو د وېش په دې لړۍ کې چې د اړوندو مسؤلینو تر نظر لاندې ترسره شوه، ۲۶۰ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۸,۵۰۰ افغانۍ او د بېړنۍ سرپناه یوه بسته او همدارنګه ۶۵ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو د پورته یادو مرستو سربېره یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

## روند پاک‌کاری خانه‌های آسیب‌دیده از زلزله در ولسوالی دره‌نور ولایت ننگرهار به سرعت جریان دارد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار، با تمویل UNDP و همکاری تخنیکی مؤسسهٔ فراداتا، بتاریخ ۲۵ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق روند پاک‌کاری خانه‌های خساره‌دیده از زلزله در ولسوالی دره‌نور آغاز شده و تا اکنون حدود ۵۰۰۰ متر مکعب ساحه از آوار پاک‌سازی شده است.

مسؤولان می‌گویند این روند تا زمان فراهم‌شدن زمینهٔ بهتر برای اسکان خانواده‌های آسیب‌دیده ادامه خواهد یافت و همچنان مسؤولان UNDP و فراداتا تأکید دارند که علاوه بر پاک‌کاری، برنامه‌های حمایوی در بخش بازسازی نیز روی دست است.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۸ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۵ نېټه د یاد ولایت په کوزکنړ ولسوالۍ او مرکز جلال آباد ښار کې ۸۸ کورنیو ته د ژمنیو توکو برابرولو لپاره نغدې مرستې ووېشلې.

د مرستو په دې ویش کې د مسولینو په شتون کې هرې مستحقې کورنۍ ته ۱۳,۱۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال یو میلیون او یو سل او دوه پنځوس زره او اته سوه (۱,۱۵۲,۸۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ارګو ولسوالۍ کې د یو استنادي دیوال چارې تکمیل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د ارګو ولسوالۍ په تاقلک کلي کې د یو استنادي دیوال د جوړولو چارې د ۸۸ مترو په اوږدوالي، ۳.۶ متره لوړوالي او ۱.۵ متره سور په درلودلو سره ټولټال د یو میلیون او یو سل او اتیا زره (۱,۱۸۰,۰۰۰) افغانیو په ارزښت د یو قراردادي شرکت په واسطه د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۵ نېټه تکمیلې کړې.

د یاد استنادي دیوال د ګټې اخیستنې په مراسمو کې، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس، مخورو سپین ږیرو، مشرانو، سیمه ییزو اوسېدونکو او اړوندو مسؤلینو شتون درلود.

د یادونې وړ ده، چې سیمه ییزو اوسېدونکو د اړوندو مسؤلینو هڅې وستایلې او له هغوی څخه یې د یادې کړنې په پار مننه وکړه.

## کشف و خنثی‌سازی یک فیر مرمی هاوان در ولسوالی شینواری ولایت پروان



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان با همکاری مؤسسه بین‌المللی ماین‌پاکی هیلوتراست(HT ۰۵ QR EORE)، بتاریخ ۲۵ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق یک فیر مرمی هاوان را در قریه طاووس‌خیل ولسوالی شینواری کشف کرده و به‌گونۀ امن از بین برد. این مرمی جان و مال باشندگان محل را با خطر روبه‌رو کرده بود، که با از بین رفتن آن، مردم محل از تهدیدات احتمالی نجات یافتند.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د پاکستان د هوایي برید له امله ۵۱ زیانمنو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، د یاد ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د پاکستان د وروستیو هوایي بریدونو له امله د ۲۰ شهیدانو کورنیو او ټپیانو او ۳۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۶ نېټه نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د ۷ شهیدانو کورنیو هرې یوې ته ۲۰،۰۰۰ افغانۍ، ۱۳ ټپیانو هر یو ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ نغدې پیسې او ۳۱ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو تور چار، دوه تختې کمپلې او ۳ جوړه څپلکې ووېشل شوې.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته د کورنو د بیا رغولو په موخه نغدې مرستې ووېشلې

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۶ نېټه د دې ولایت په مرکز پلخمري کې ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته د هغوی د کورنو د بیارغولو په موخه نغدې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۰،۸۶۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره یو میلون او شپږ اتیا زره (۱،۰۸۶،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ایبک ښار کې د زلزلې له امله ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د آیسو موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۶ نېټه د یاد ولایت په مرکز ایبک ښار کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې یوه روغتیایي بسته او د ژمنۍ البسې یوه بسته ووېشل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۲۴ خانواده متضرر ناشی از زلزله اخیر در ولسوالی مارمل کمک نقدی توزیع کر




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت موسسه WHH برای ۲۴ خانواده متضرر ناشی از زلزله اخیر در ولسوالی مارمل، پس از سروی بتاریخ ۲۶ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این روند با حضور مسوولان محلی برای هر خانواده مبلغ ۱۱۱۸۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ دوصد و شصت و هشت‌هزار و سه‌صد و بیست(۲۶۸۳۲۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها در نظر گرفته شده بود.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل برای ۱،۹۳۰ خانوادۀ مستحق کمک‌های نقدی و غذایی توزیع کرد




براساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسۀ ماهو به امضا رسیده و که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا(WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل با همکاری این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۶ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱،۹۳۰ خانوادۀ مستحق در ولسوالی‌های سوزمه‌قلعه و کوهستانات کمک‌های نقدی و غذایی توزیع کرد.

در این روند و در حضور مسئولان، برای ۱،۴۸۳ خانواده به هر خانواده ۲،۹۰۰ افغانی پول نقد توزیع شد که در مجموع مبلغ چهار میلیون و سه‌صد هزار و هفت‌صد(۴،۳۰۰،۷۰۰) افغانی برای این خانواده‌ها تخصیص یافته بود. همچنان، برای ۴۴۷ خانواده به هر خانواده ۳ بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۳ بوتل روغن ۵ لیتری، ۱۸.۷۵ کیلو دال و نیم کیلو نمک توزیع گردید. به همین ترتیب، از این جمله برای ۱۹۵ خانم باردار سوپر سریال و برای ۱۶۵ خانواده دارای کودکان زیر دو سال، به هر خانواده ۳۰ پاکت پلمپی توزیع شد.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰ زیانمنو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM په ملاتړ، د دې ولایت د کوهستانونو، الجهاد او ګوسفندي ولسوالیو او مرکز اړوند، د وروستۍ زلزلې له امله ۳۰ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۷ نېټه غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ بسته د پخلنځي د وسایلو، ۱ د ژمنیو توکو بسته، ۳ تختې کمپلې، د بیړنۍ سرپنا د وسایلو کیټ او ۱۰ ډېرو زیانمنو شویو کورنیو هرې یوې ته ۱ بابه خېمه هم ووېشل شوې.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د زلزلې له امله ۵۴ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د SFL-WFP، IOM او د ماشومانو د ملاتړ بنسټونو په ملاتړ، د دې ولایت د مزار شریف اړوند په بېلابېلو ناحیو کې، د وروستۍ زلزلې له امله ۵۴ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۷ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د SFL-WFP مؤسسې له لوري ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال نخود، ۲ کیلو بیسکټ، ۱.۵ کیلو مالګه او هغو کورنیو ته چې په هغه کې شیدې خوړونکي ماشومانو، شیدې ورکونکو او حامله میندو شتون درلود ۱.۵ کیلو پلمپې او ۳ کیلو سوپر سیریل ووېشل د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې له لوري یوه بسته ژمني توکي او یوه بسته روغتیایي توکي او همداراز د IOM سازمان لخوا ۱ تخته کمپله، ۱ عدد سولري څراغ، یوه کورنۍ بسته او ۱۳ کورنیو هرې یوې ته چې کورونه یې په بشپړ ډول سره ویجاړ شوي وو ۱ باب خېمه هم ووېشل شوه.

## د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۲ زیانمنو شویو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د کنسرن مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت د نمک آب ولسوالۍ د شغلش او شک درې کیلو اړوند، د طبیعي پېښو له امله ۴۲ زیانمنو شویو، د بې سرپرسته میرمنو او د معلولینو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۷ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۵،۲۶۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره شپږ سوه او څلوېښت زره او نه سوه او شل (۶۴۰،۹۲۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۹۶ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د البرز ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې د مشروطو او غیر مشروطو مرستو ترسرلیک لاندې د وچکالۍ له امله ۱۲۹۶ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۷ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره درې میلیونه او اوه سوه او اته پنځوس زره او څلور سوه (۳،۷۵۸،۴۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## توزیع مرحله دوم کمک‌های نقدی برای ۳۱۵ خانواده مستحق در بامیان




بر اساس تفاهم‌نامه امضاء میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه آقاخان برای اسکان، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی موسسه متذکره، بتاریخ ۲۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق دور دوم کمک‌های نقدی را برای ۳۱۵ خانواده در مرکز بامیان توزیع نمود.

د این پروسه با حضور مسئولین، به هر خانواده ۴۳۵۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ ۱,۳۷۰,۲۵۰(یک‌میلیون‌و سه صدو هفتاد هزارو دوصدو پنجاه افغانی برای این‌تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.


## کار ساخت یک دیوار استنادی در ولسوالی گلدرهٔ ولایت کابل تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل یک دیوار استنادی را در قریهٔ ده‌عربانِ ولسوالی گلدره، به ارزش مجموعی مبلغ هشت‌صد و چهل هزار و پنج‌صد و سی و هفت(۸۴۰۵۳۷) افغانی، با طول ۷۵ متر، عرض ۱.۸۰ متر و ارتفاع ۳.۸۰ متر بتاریخ ۲۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق تکمیل و به بهره‌برداری سپرد.

این دیوار استنادی با حضور محترم الحاج مولوی نجیب‌الله انوری رئیس ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، ولسوال محترم گلدره، بزرگان محل، ریش‌سفیدان و جوانان افتتاح و به استفاده سپرده شد.

رئیس آمادگی مبارزه با حوادث دربارهٔ اهمیت این پروژه صحبت همه جانبه کرد و از باشندگان محل خواست تا در نگهداری بهتر آن تلاش کنند. همچنان باشندگان منطقه از تکمیل این پروژه ابراز خرسندی کرده و از مسئولان مربوطه قدردانی نمودند.

شایان ذکر است که با ساخت این دیوار استنادی، یک مسجد جامع و پنج قریهٔ این ولسوالی از خطرات احتمالی سیلاب‌ها محفوظ گردیدند.



## د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست په خلم ولسوالۍ کې د یوې سېلابي لارې د پاکولو چارې پيل کړې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې د لوی رئیس؛ محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د لارښوونې له مخې، چې د دې ادارې ټولو ولایتي ریاستونو ته یې لارښوونه کړې وه ترڅو د بېلابېلو ولسوالیو د سېلابونو لارې چې له رسوباتو څخه ډکې شوې دي پاکې کړي، د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست په خلم ولسوالۍ کې د يو خوړ د پاکولو چارې د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۷ نېټه پیل کړې.
دا د سېلاب لاره د ۴۵۰ متره اوږدوالي او ۶ متره سور په درلودلو سره له رسوباتو څخه ډکه شوې وه، چې د پاکولو چارې یې له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د رئیس؛ محترم احسان الله احسان، د خلم د ولسوال او سیمه ییزو اوسېدونکو په شتون کې پیل شوې. د دې پروژې په بشپړېدو سره به د سېلابي لارې د شاوخوا سیمې د سېلاب له خطر څخه بچ او د خلکو څانونه او مالونه به د سېلابونو له احتمالي زیانونو څخه وژغورل شي.

## په پروان ولایت کې چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول

د پروان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د دې ولايت په بگرام ولسوالۍ کې د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۷ نېټه یوه اندازه چاودېدونکي توکي کشف او په خوندي توگه له منځه یوړل.
دا لړۍ د هیلو ترسټ ماین پاکۍ مؤسسې د تخنيکي ټیم په مرسته ترسره شوه. چاودېدونکي توکي د ارزونې د تخنيکي پړاونو له تطبيقولو وروسته د امنيتي معیارونو مطابق خنثی شول.
د پروان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست مسؤلینو وویل چې د دې اقدام موخه د سیمه ییزو وگړو د احتمالي خطرونو کمول او د هستوگنې ور سیمې د امنیت تأمینول دي.



## د لوگر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۴۰۰ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د لوگر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د دې ولایت په خروار ولسوالۍ کې د وچکالۍ د اغېزو له امله ۴۰۰ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۷ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۳۴ خانواده شهید و زخمی ناشی از حملات اخیر پاکستان مساعدت نقدی انجام داد



به اساس هدایت مقام اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی و مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۳۴ خانواده شهید و زخمی اخیر ناشی از حملات راکتی نیروهای پاکستانی بتاریخ ۲۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک نقدی توزیع نمود.

این کمک‌ها در ولسوالی‌های سرحدی دانگام، اسمار، ناړی و غازی‌آباد توزیع شده و شامل ۲۹ زخمی و ۵ خانواده شهدا می‌باشد که به هر زخمی ۱۰ هزار افغانی و برای هر شهید ۲۰ هزار افغانی کمک نقدی توزیع شد.

روند توزیع کمک‌ها در حضور نماینده مقام ولایت کنر و مولوی محمد مبین مفتون عمر، رئیس آمادگی و مبارزه با حوادث ولایت کنر انجام شد.

مسؤولان محلی می‌گویند این کمک‌ها به گونه عاجل و به هدف رسیدگی به خانواده‌هایی صورت گرفته که در اثر حملات اخیر زیان‌مند شده‌اند.

همچنان روند سروی و ثبت آسیب‌دیدگان دیگر برای ادامه کمک‌رسانی جریان دارد.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۸۲ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ورلډ ویژن مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې ملاتړ، د دې ولایت په قیصار ولسوالۍ کې ۸۲ او چهل ګزي ولسوالۍ کې ۱۰۰ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۸ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې پنځو پړاوونو مرستې په یو ځای ۲۰۰ یورو یا د هغې معادل ۱۵۳۱۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## په فراه ولایت کې بېلابېل چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC ماین پاکۍ مؤسسې د تخنیکي ټیم د همکارۍ له مخې، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۸ نېټه د دې ولایت په بېلابېلو سیمو کې له تېرو جګړو څخه یو شمېر پاتې شوي چاودېدونکي توکي کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل.

د دې عملیاتو په پایله کې، یو فیر د هاوان ۶۰ میلي مترۍ مرمۍ، یو فیر د راکټ ۸۵ میلي مترۍ مرمۍ او یو فیر د توپ ۲۲۱ میلي مترۍ مرمۍ په خوندي توګه له منځه یوړل شوې.

د دې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له سیمه ییزو اوسېدونکو څخه وغوښتل چې د هر ډول مشکوکو او چاودېدونکو تو د لیدلو په صورت کې دې له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي ترڅو یې د خطرونو د کمولو په موخه احتیاطي تدابیر ونیول شي.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۷۵ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با همکاری مالی سازمان بین‌المللی مهاجرت(IOM)، بتاریخ ۲۸ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق طی یک برنامه منظم برای ۷۵ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند، برای هر خانواده مستحق مبلغ ۱۳۱۰۰ افغانی توزیع گردید که مجموع آن به مبلغ نه‌صد و هشتاد و دو هزار و پنجصد(۹۸۲۵۰۰) افغانی می‌رسد.

خانواده‌های دریافت‌کننده کمک از دریافت این کمک‌های نقدی ابراز خرسندی کرده و گفتند که این کمک‌ها در فصل سرد زمستان در زمینه تأمین مصارف ضروری برای آنان نقش مهمی خواهد داشت. آنان همچنان از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و نهادهای بین‌المللی به خاطر ادامه همکاری‌ها قدردانی کردند.

# د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۰ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د SFL-WFP، IOM سازمانونو او د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په زاري او چمتال ولسوالیو کې د وروستۍ زلزلې له امله ۶۰ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۸ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د SFL-WFP سازمان له لوري ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال نخود، یو کیلو مالګه او هغو کورنیو ته چې په هغه کې شېدې خوړونکي ماشومان، شیدې ورکوونکې میندې او حامله میندې شتون درلود ۱.۵ کیلو پلمپي او ۳ کیلو مالګه د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې لخوا یوه د ژمنیو توکو او یوه روغتیایي بسته او د IOM سازمان له لوري یوه تخته کمپلې، ۱ عدد سولري څراغونه، ۱ د پخلنځي کیټ او همدارنګه یوې کورنۍ ته چې کور یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی وو یو باب خېمه هم ووېشل شوه.

## د کندهار ولایت په پنجوايي ولسوالۍ کې یو د الوتکې بمب کشف او په خوندي توګه منځه یوړل شول



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاست د هیلوترسټ ماین پاکۍ نړیوالي مؤسسې د تخنیکي ټیم په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۸ نېټه د دې ولایت د پنجوايي ولسوالۍ په صالحانو کلي کې، له تېرو جګړو څخه پاتې شوی یو د الوتکې بمب کشف او په خوندي توګه خنثی کړ.

یاد بمب د یو تن سیمه ییز اوسېدونکي لخوا د کروندې د کولو پرمهال لیدل شوی وو، چې د اړوندو مسؤلینو له خبراوي وروسته په خوندي توګه له منځه یوړل شو.

## د فراه ولایت د ښار د شپږ کیلومتره کانالونو د پاکولو چارې په چټکۍ سره دوام لري



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، چې ټولو ولایتونو ته یې دنده سپارلې وه، چې ټولې سېلابي لارې په هر ځای کې پاکې کړي. د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ښار د شپږ کیلومتره کانالونو د پاکولو چارې د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۸ نېټه پیل کړې او دا کار په جدي ډول روان دی.

یاده پروژه د ولایتي کمیټې د وسایطو په کارولو او د دې ادارې له بودجې څخه د پنځه سوه زرو (۵۰۰,۰۰۰) افغانیو په لګښت مخکې پیل شوې وه، چې نږدې ۱۵ ورځې وړاندې د تخنیکي ستونزو له امله ودرول شوه، خو اوس د ستونزې له حل وروسته، کار یې یو ځل بیا په جدي توګه دوام لري.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۱۳۰ خانوادهٔ مستحق کمک‌های غذایی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسهٔ(ASIO) که تمویل‌کنندهٔ پروژه آن برنامهٔ جهانی غذا (WFP)می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با همکاری این مؤسسه در ولسوالی بغلان مرکزی، برای ۱۳۰ خانوادهٔ مستحق پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۸ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی چهارماهه توزیع نمود.

در این روند، برای هر خانواده در حضور مسؤولان مربوطه، ۲۰۰ کیلو آرد، ۲۰ لیتر روغن، ۲۵ کیلو دال و ۲ کیلو نمک توزیع شد.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۷۵ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د رازي پراختیایي او ټولنیزې موسسې (RSDO) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په قادس او مقر ولسوالیو او مرکز قلعه نو کې د وچکالۍ له امله ۸۷۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۹ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، له یادې جملې ۳۰۰ کورنیو هرې یوې ته ۱۳,۲۵۴ افغانۍ، ۳۷۵ کورنیو هرې یوې ته د دویم پړاو ۵,۳۰۳ افغانۍ او ۲۰۰ نورو کورنیو هرې یوې ته ۵,۳۰۴ افغانۍ نغدې پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال اووه میلیونه او پنځه ویشت زره او شپږ سوه پنځه ویشت (۷,۰۲۵,۶۲۵) نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۳۱۵ خانوادۀ نیازمند کمک نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامۀ امضاشده میان ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسۀ آغاخان برای اسکان (AKAH)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت این مؤسسه، بتاریخ ۲۸ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق در قسط دوم برای ۳۱۵ خانوادۀ نیازمند در ولسوالی دوشی آن ولایت کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند، که با حضور مسئولان مربوطه برگزار شد، برای هر خانواده مبلغ ۴۳۵۰ افغانی توزیع گردید. در مجموع برای این تعداد خانواده‌ها یک میلیون و سه‌صد و هفتاد هزار و دوصد و پنجاه (۱,۳۷۰,۲۵۰) افغانی اختصاص داده شده بود.

## عامه پیغامونه :

**26. خوک چې په دې دنیا کې یو څوک خوشحاله کړي، الله ج به هغه د قیامت په ورځ خوشحاله او وخندوي (الحدیث)**

**27. هره کوچنۍ پروژه چې په کم لګښت ترسره کېږي, د کلي خلک دې حکومت او موسسو ته نه په تمه کېږي, بلکې په ګډ کار(حشر) او انداز سره دې د هغې پروژې کار ترسره کړي**

**28. عام المنفعه کارونه بشپړول, د یو ریښتیني مومن ځانګړتیا ده**

**29. مخکې له دې چې بېلابېل مرضونه ستاسو باغونه او کروندې له منځه یوسي, په کمې درملنې سره یې د مرضونو مخنیوی وکړئ**